

دافغانستان داسلامی امارات

دمشرتا به مقام لخوا

ومجاهدينو ته


جهادی لایحه

دافغانستان داسلامی امارات

دمشرتا به مقام لخوا

ومجاهدينو ته

جهادی لایحه



دافغانستان داسلامی امارت

دمشرتابه مقام لخوا

ومجاهدينو ته

جهادی لایحه

بسم الله الرحمن الرحیم

# دافغانستان داسلامی امارت

## کړنلارې

نحمده ونصلي على رسوله الكريم.امابعد:
دخدای په لار کی جهاد کول هغه عظیم الشان عبادت او ستره دنده ده چی، په کولو سره یی دامت عزت او دخدای(ج) دکلمي لوړوالی راځي ښکاره خبره ده چی، دغه مقدسه وظیفه ترسره کول او پرهغي باندي ددنیا او اخرت پوره ثمره اخستل، هغه وخت کیدلای شي چي دالهي احکامو په رڼا او دمقرره اصولو په چوکاټ کښي ترسره شی.نو په همدی خاطر دمجاهدینو لپاره دا راتلونکی اصول مراعات کول لازمي دي:



(۱) یو مسؤل کولای شي چي هغه افغانانو ته چي دکفارو په صف کي ولاړ دي، دعوت ورکړي چي داسلام و حقې لارې ته یې رابولي.

(۲) کوم کس چي دکفارو له صف څخه راووزي، نو داسلام داصولو مطابق دهغه دسر او مال دساتني تضمين کيږي.

(۳) کوم مجاهدین چي دمخالفینو په ډله کي دکوم چا سره تماس نیسي او یا هم وچانه دساتني تضمین ورکوي، باید دخپلي سیمي او یاعمومي مسؤل څخه اجازه واخلي او هغه په جریان خبر کړي.

(۴)کوم کس چي تر دعوت قبلولو وروسته، پر خپلو ژمنو وفا ونه کړي او ښکاره غدر وکړي، نو بیا ورسره شوي وعده لغوه او حق یې



محفوظ نه دي. او دبل ځل لپاره ورسره په هیڅ صورت وعده نه کیږي.

(۵)کوم کس چي دکفر دصف څخه راجلا شي، مجاهدین یې دساتني تضمین ورکړي او مجاهد دغه کس قتل کړي او یا کوم نقصان ورورسوي، دداسي عمل له کوونکي سره د اسلامي تحریك کوم ملاتړ نشته او دشریعت داصولو مطابق به معامله ورسره کیږي.

(۶) دیوې ولسوالي یا ولایت کوم دلګي مشر، که په بل ولایت او ولسوالي کي جهاد کوي. کولای شي خو دتلونکي ولایت او ولسوالي او د ورتلونکي ولایت او ولسوالي دمسئولینو به اجازه اخلي.

(۷) که چیرې مجاهدین کوم بهرني یرغلګر ونیسي. نو دتحریك دعمومي مشرتابه له



اجازې پرته یې داسیرانو او پیسو په مقابل کي نه شي تبادله کولای.

(۸) دولایت، ولسوالي او دساحي مسؤل نه شي کولای چي دمخالف لورې سره، دپیسو او ټانورو مادیاتو دلاسته راوړلو په خاطر، له هغوی سره خانګړې تړون وکړي او موسسات په مخالف لوري کښي داخل دي.

(۹) دهرمسؤل لپاره، له جهادي اسبابو او مالونوڅخه شخصي استفاده کول سخت منع او ناروا دي.

(۱۰) هر مافوق مسؤل کولای شي چي د خپل ماتحت مسؤل سره، وخت په وخت د جهادي اجناسواومالي مصارفویه هکله، محاسبه وکړي.

(١١) مجاهدین دا اختیار نه لري چې جهادي اسباب، دولایتي مسؤل داجازې پرته وپلوري.

(١٢) مجاهدین داحق نه لري چې دخپلې ډلګۍ دوېریدو په خاطر دبلې ډلګۍ مجاهدین وځان ته دعوت کړي. البته که کوم مجاهدین دمعقولو دلایلو پر بناء دبل مسؤل سره یو ځای کیدل وغواړي نو، له مافوق مسؤل څخه به اجازه اخلي او هغه جهادي اجناس چې پخوانی ډلګي مشر، دجهادي خدمت لپاره دغه تلونکي شخص ته ورکړي وي او یا هم ددوی په ګډه ملګرتیا کې نیول شوي وي او دډلګي حق ثابت شوي وي، هغه اجناس به زاړه ډلګي مشر ته ورکوي.



(١٣) دکفارو مالونه او وسلې، که دکفارو او یا هم دمنافقینو څخه ونیول شي، هغه غنیمت ګڼل کیږي. باید مسؤل اشخاص ئې پر مجاهدینو باندې دسپیڅلي شریعت مطابق تقسیم کړي.

(١٤) که کوم مجاهدین په موجوده کفري اداره کې، له ولاړو خلکو سره داسلامي او جهادي ګټو په خاطر ارتباط ونیسي، باید د سیمې نورو مسئولینو ته ئې معرفي کړي. ددغه شخص مرګ نه دي جائز او نه به ئې څوک وژني. که بالفرض چا ووژه، دهغه چاسره به دسپیڅلي شریعت مطابق چلند کیږي.

(١٥) که کوم مسئول یا فرد، دمجاهدله نامه څخه په استفاده عامو خلکو ته ناحقه ضرر رسوي، نو مافوق مسئول یې په دې مکلف دی



چې دغه فرد یا مسئول اصلاح کړي. دنه اصلاح کیدو په صورت کې دي، مشرتابه ته معرفي کړي او دمجاهدینو له صف څخه دې خارج کړي.

(١٦) مجاهدینو ته داقطعي حکم دی چې دعمومي مسؤل داجازې پرته دې له خلکو نه دهغوي دکورونو وسلې په زور نه اخلي.

(١٧) مجاهدین دا حق نه لري چې دخلکو پیسې یا نور شخصي اجناس په زور واخلي.

(١٨) مجاهدین دې له پخواني حکم سره سم. دسګریټ له څکولو څخه په کلکه ډډه وکړي او هماغه حکم واجب التعمیل دی.

(١٩) لغړزني له ځان سره جهاد ته بیول او یا خپل محاذ ته لیږدول مطلق بند دي.



(٢٠) دهرولایت مسؤل اختیار لري چې دخپل ولایت دشرایطو،په نظرکې نیولوسره هغو کسانو ته چې دکفارو په صف کې ولاړ وي دعوت ورکړي او دتسلمیدلو په صورت کې یې دسر او مال دخوندي ساتنې په مخصوصو شرطونو تضمین ورکړي. البته دتضمین په صورت کې به له نظامي کمیسیون سره مشوره کوي.

(٢١) هرهغه څوک چې اوسني کفري اداري ته یې خدمت کړي وي، اوسني کفري حکومت ته یې خلګ بیل او یې لارې کړي او دخلګو کورونه یې تلاشي کړي وي. یادمسلمانانو په قتل تورن وي او یایې عام مسلمانان زهیرکړي وي. مسلمانان هم ورڅخه متنفروي. مجاهدین باید داسې کس په خپل صف کښې ونه دروي.

اوکه ورته داسلامي امارت دمشرتابه له خوا، دبخښني اعلان وشي نو بايد پرګورکښېنول شي.

(۲۲) که دمجاهدينو کوم يو فرد، دکوم جرم مرتکب شي او ددغه جرم په سبب خپل ډلګي مشر ورته جواب ورکړي او له ډلګي نه يې اخراج کړي، دبلي ډلګي ، مشر دا حق نه لري چي له ځان سره يې ملګري کړي. که دکوم ډلګي مشر، ديو جرم په وجه دعمومي مسؤل له لوري اخراج شي. بل څوك داحق نه لري چي همدغه ډلګي مشر اکمال کړي ترڅو تائب شوي نه وي.

(۲۳) که چيري داسي پوکاردمجاهدينو مخي ته راشي چي په لايحه کي ورباندي بحث



نه وي شوي دسيمي دموجوده مسؤلينو په مشوره دي حل کړي.

(۲۴) دموجوده تش په نامه حکومت په اداره کي داخل هر فعاليت منع دی. که څه هم دمدرسي استاد وي يادمکتب معلم وي. ځکه داد کفارو د اداري او نظام تقويه ده. البته مسلمانان بايد دخپلو اولادونو او نوي نسل د روزني لپاره، په خپل طاقت معلم يا استادمقرر کړي چي په مسجد يا بل مناسب ځای کښي دهغه تعليمي نصاب روزنه ورکړي چي د مجاهدينو يا دامارت د وخت نصاب وي، نه دموجوده کفري اداري نصاب.

(۲۵) دموجوده تش په نامه، دحکومت په اداره کښي چي معلم يا ملا تعليم ورکوي. هغه



لره دي خبر ورکول شي چي،منع شي او که منع نه شي بيا ، په وهلو مجازات کيدلاي شي.

البته که دا معلم يا ملا داسلام په ضد تعليم ورکوي، هغه دي دولسوالی دعمومي مشر يادمحاذونو دشوري ترتحقيق وروسته، په مرګ مجازات شي.

(۲۶) دکفارو دتجاوزو په اوسني وخت کښي چه کومي موسيسي دي، دا دکفري نظام لپاره واسطه او اله دي. دخدمت په بهانه، دين او اسلام خرابوي. لهذا ددوي هرفعاليت منع دي. که سړك وي، که پل وي، که کلينك، که مکتب وي، که مدرسه اونور.

البته که مکتب دسوځلو مستحق وو، ترسوځلو دمخه، که بالفرض ديني کتابونه وي، هغه دي جداکړي چي، بي احترامي يي ونه شي.



(۲۷) دجاسوس ثابتول يا مجازات ورکول، هر مسؤل ته حق نشته چي مداخله پکښي وکړي. لکن دولسوالي عمومي مسؤل يا د محاذونو شوري ته چه ثبوت په داسي قراينو وشي چي يقين يا غالب ګمان پيداکوي، يادعادل په خبر، يعني چه لويه ګنا نه کوي او په کوچني ګناه هميشه توب نه کوي، نه ئي ډير وي تر فساد، سمه يې ډيره وي تر خطا. بيا نو عمومي مسؤل يا دمحاذونو مسؤل دي خبر ورکړي. که منع نه شو بيا دي په مناسب انداز ووهي. که منع نه شو، بيا تر غور وروسته يې په مرګ مجازات کولاي شي او شخصي تعصب به هم پکښي نه وي.

(۲۸) که مجاهدينو لره څوك عارض شو هر مسؤل حق نلري چي دعامو خلکو په

موضوعاتو کي مداخله وکړي. البته بوازې دولسوالي عمومي مسؤل یا دمحاذونو شورې د ډیر ضرورت په وخت، په موضوع کښي مداخله کولای شي.اول دې موضوع دعلماؤ په واسطه اویا دقومي مشرانو په صلح حل کړي. که دصلحي په لاړ نه جوړېدل، بیا دې دعلاقې دجیدؤ علماؤ دنظر موافق اجرات وکړي.

(۲۹) په پورتنیو مادو باندي عمل کول لازم اوضروري دي. که څوك ورڅخه تخلف وکړي له هغه سره به دافغانستان داسلامي امارت له اصولو سره سم چلند کیږي.

ومن الله توفیق

دا لایحه : دافغانستان داسلامي امارت سرتیرو مجاهدینو ته، دخدای(ج) په حقه



لاره کي دپاك او سپیڅلي جهاد دلاسپیڅلتیا او پرمختګ په لاره کي بشپړه لارښونه کوي مجاهدین دي ورباندي عمل کول، خپله ایماني او جهادي دنده وګڼي.

(والسلام)

[illegible]

چې څوک څه کوی هغه به زرور رېبی یادیه لری.
که په دنیا کی وی او که په آخرت کی وي

انشاءالله